صبورالله سیاسنگ
پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳ اکتوبر

۲۰۲۳/۱۲/۱۴

د (میر اکبر خیبر) د قتل پلټنه

د اتمې برخې سمون

په پام کې ده چې په ۲۰۲۴ز کال کې د میر اکبر خیبر د قتل د پلټنې په هکله دوهم ټوک ولیکل سي. له دې کبله له ټولو ښاغلو لوستونکو په ځانګړې توګه د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند له لوړ پوړو او ټیټ پوړو غړو او عیني شهودو څخه هیله کېږي چې که د افغانستان د تأریخ د یوۀ ناسپړل سوي باب په هکله کره او ناویل سوي دقیق معلومات په لاس کې لري نو یا دې له ما سره او یا دې له لیکوال ښاغلي ډاکټر صبورالله سیاسنګ سره د برېښنالیک د پتو له لارې اړیکه ونیسي او دغه تشه دې ډکه کړي. مه پرېږدئ چې تأریخ په راتلونکي کې تحریف سي.
په درنښت

د معلوماتو راټولونکی	صبورالله سیاسنګ
برېښنا لیک پته:	siasang@yahoo.com
پښتو ژباړه:	رحمت آریا - اکتوبر ۲۰۲۳
د برېښنا لیک پته:	RahmatArya@Rogers.com

د خیبر د قتل د پلټنې په اتمې برخې کې یو سمون

رحمت آریا

د (میر اکبر خیبر) د قتل پلټنه، اتمه برخه دلته و لولي

جناب عبدالصمد ازهر، ښاغلي ډاکټر صبور الله سیاسنګ صاحب ته د یوۀ برېښنالیک په ترڅ کې د خیبر د قتل د پلټنې د اتمې برخې په دوه وو پاراګرافونو کې د ترجموي تېروتنې د بیا سمون لپاره د کتنې او اصلاح غوښتنه کړې ده. ښاغلي سیاسنګ ته د ښاغلي ص. ازهر د برېښنالیک متن په لاندې ډول دی :

****

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دوست گرامی جناب سیاسنگ سلام

کتاب شما در مورد پرونده قتل خیبر را هنوز نخوانده ام. اما برگردان پشتوی آن را از قلم آقای رحمت آریا تا قسمت دهم که تا کنون منتشر شده است، تعقیب کرده ام. در بخش هشتم این برگردان، در جایی که شما از من نقل قول کرده اید، با تأسف در برگردان دو خطای قابل اصلاح را ملاحظه کردم. یکی آن در جمله ی ذیل:

«راوروسته کلونو کې چې د ملګري کارمل د مسؤلیتونو پېټې دروند او مصروفیتونه ئې ډېر سول **نو ازهر** یواځې په مهمو غونډو کې ګډون کاوهٔ او په نورو مواردو کې ملګري خیبر وو چې دغه اړیکه ئې له ملګري کارمل او سازمان سره ټینګوله. » در این جمله به جای کارمل، ازهر نوشته شده است. تصور نمی کنم اشتباه از شما باشد، محتملاً برگرداننده بی توجهی کرده خواهد بود.

مورد دوم:

«سره له دې چې «سازمان انقلابي اردو» یو کال مخکې د کودتا لپاره د محمد داؤود له جلب او جذب او تدارکاتو څخه خبر وو او ګڼ شمېر غړي ئې کودتا ته د مرستې کولو لپاره بلل سوي ول خو نهٔ ئې کودتا له لاسه ورکړه او نهٔ ئې خپلو غړو ته په کودتا کې دونډې اخېستلو اجازه ورکړه.» فهمیده نتوانستم کدام حرف های مرا «خو نه یې کودتا له لاسه ورکړه» ترجمه کرده است.

انتظار دارم با امانت کاریی که خصلت نهادینه شماست، اگر اشتباه در برگردان است، توجه آقای آریا را که زحمت قابل تقدیر در این کار کشیده اند، جلب کنید.

با عرض حرمت

ص. ازهر

د برېښنالیک پای

****

له هر څه مخکې له ښاغلي ص. ازهر څخه مننودی یم چې دا لړۍ لولي او ورسره علاقه لري.

دلته د اعتراضیه برخو لپاره لومړی د اصلي متن پاراګرف او بیا د پښتو ژباړې اصلاحي بڼه ړدم.

زه تر خپل وروستي حد پورې کوښښ کوم چې ژباړه کټ مټ له اصلي متن سره له تحریف او تعبیر پرته امانتاً صحیح ژباړه وي. دا زما د کار خصلت دی چې په ژباړه کې تر خپل وروستي حد پورې امانت ساتم. اوس د لوستونکو پام دغو پارګرافونو ته رااړوم :

اصلي متن په دري کې

در سال‌های بعدی که سنگینی مسئوولیت‌ها و مصروفیت‌های رفیق کارمل زیاد شد، صرفاً در نشست‌های مهم اشتراک می‌کرد و در بقیه موارد رفیق خیبر رابطهٔ رفیق کارمل و سازمان را تأمین می‌داشت. تماس‌های رفیق خیبر معمولاً با هر دو نفر اول رهبری سازمان برگزار می‌شد

په پورتني متن کې له ما ژباړونکي څخه په دې ځای کې تېروتنه سوې ده چې (صرفاً در نشست های مهم اشتراک میکرد...) او دلته د ښاغلي ازهر نوم راڅخه لیکل سوی حال دا چې منظور ئې کارمل وو. او دا دی د پښتو اصلاحي متن ئې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

«راوروسته کلونو کې چې د ملګري کارمل د مسؤولیتونو پېټې درونډ او مصروفیتونه ئې ډېر سول نو یواځې ئې په مهمو غونډو کې ګډون کاوهٔ او په نورو مواردو کې ملګري خیبر وو چې د ملګري کارمل او سازمان اړیکه ئې تأمینوله. »

په دوهم پاراګراف کې :

دري اصلي متن :

با آنکه حتا تقریباً از یک سال پیش، "سازمان انقلابی اردو" از جلب و جذب و تدارکات برای کودتای محمد داوود، اطلاع داشت و عدۀ زیادی از اعضای آن برای کمک دعوت شده بودند، **نه کودتا را لو داد** و نه به اعضای خود اجازۀ سهمگیری در آن را داد.

دلته ښاغلي ازهر د «لو دادن» فعل کارولی دی. باید ووایم چې ما د افغان نامتو لیکوالانو لکه رهنورد زریاب، مرحوم ډاکټر اکرم عثمان، مرحوم واصف باختري او نورو په هېڅ لیکنو کې د «لو دادن» فعل نـهٔ دی لوستی او یا مې لږ تر لږه په یاد نـهٔ دی. ان د دهخدا په فارسي قاموس کې چې یو معتبر قاموس دی هلته هم ونـهٔ موندل سو. دا فعل نـهٔ د افغانانو او نه د ایران په پارسي ادبیاتو کې دود دی. دا د ایران په فارسي عامیانه ادبیاتو کې یو فعل دی چې په شفاهي ادبیاتو کې د افشاء کولو، له لاسه ورکولو، رسوا کولو او په څو نورو معانیو کارول کېږي. زموږ هغه افغانان چې په دې وروستیو کې ایران ته تللي دي دا فعل ئې له ځان سره راوړی دی. نو له همدې کبله د ښاغلي ازهر اعتراض پر ځای دی او په پښتو متن کې باید د افشاء کلمه کارول سوې وای. زما انتباه له لو دادن څخه افشاء کردن ده.

دا دی د پورتني پاراګراف پښتو اصلاحي ژباړه :

سره له دې چې «سازمان انقلابي اردو» یو کال مخکې د کودتا لپاره د محمد داؤود له جلب او جذب او تدارکاتو څخه خبر وو او ګڼ شمـېـر غړي ئـې کودتا ته د مرستي کولو لپاره بلل سوي ول خو نـهٔ ئـې کودتا افشاء کړه او نـهٔ ئـې خپلو غړو ته په کودتا کې دونډې اخـېـستلو اجازه ورکړه.

کله چې دا کتاب د افغان جرمن آنلاین په پورتال کې خپرېږي یاد سوي اصلاحات به په کې راوړل سي.

نوربیا

له هغهٔ وروسته د وسلوال ځواک...

یادونه: قدرمنو لوستونکو! دا هم د ښاغلی رحمت آریا د آرشیف لینک

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ